# دنیا د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: دنیا د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی.
[صحيح] [مسلم روايت کړی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې دنیا د مؤمن لپاره لکه د زندان په څېر ده، ځکه چې هغه په شرعي واجباتو پابند دی — په څه چې ورته امر شوی باید عمل پرې وکړي او له څه نه چې منعه شوی باید ويې نه کړي، نو کله چې مړ شي، له دې کړاوونو راحت مومي او هغه تلپاتې نعمتونو ته ځي چې الله تعالی ورته چمتو کړی دي، خو دنیا د کافر لپاره لکه جنت ده، ځکه هغه هر څه کوي چې زړه يې وغواړي او نفس يې ورته امر کوي، خو کله چې مړ شي، د قیامت په ورځ د تل پاتې هغه عذاب سره مخ کيږي چې الله تعالی ورته چمتو کړی دی.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee